د افغـــانستان اســـلامي امـــارت

د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

د مساجدو د ارشاد او انسجام عمومي رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او

ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو

ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۲۴/ جمادی الأول /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۱۷ /قوس /۱۴۰۲هـ، ش

# د اسلام له نظره د غيبت او تُهمت دُنيوي او اُخروي زيانونه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين محمد وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى في محكم كتابه: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ}.الحجرات: ۱۲

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو !

ژبه د انسان د پاره ډير لوی نعمت دی دا د غوښې يوه ټوټه ده خو په دې باندې مونږ : خپل اظهار ما في الضمير په آسانې طريقې سره کولی شو ، همدارنگه ددې په ذريعه مونږ د هر قسمه شيانو خوند هم معلومولی شو . که مونږ خپله ژبه صحيح استعمال کړو نو ددې په ذريعه مونږ ډير آجرونه او ثوابونه حاصلولی شو؛ خو که غلطه يې استعمال کړو دا بيا د ډيرو گناهونو سبب گرځي ، همدا وجه ده چې اسلامي شريعت د ژبې پر حفاظت ډير تاکيد کړی دی .

اوس د ژبې سره چې کوم گناهونه تعلق لري په هغې کې يوه گناه " غيبت کول او بهتان لږول" هم دي ، د هغه آفتونو له جملې څخه چې په ژبه ترسره کيږي غيبت او بهتان دی.، غيبت داسې خطرناکه گناه ده چې دا په ټوله معاشره کې خوره شوی او ډير لوی لوی خلک په دې مرض کې مبتلاء دي ، بيا خاصکر نن صبا په اکثره مجلسونو کې د غيبت بازار گرم دی.

غيبت او بهتان دواړه داسې وژونکي مرضونه دي چې ټولنه له منځه وړي او په ټولنه کې بې باروي او ډول ډول فسادونه رامنځ ته کوي. غيبت دومره بد مرض دی چې ځينو فقهای کرامو به د غيبت څخه اودس کولو او ويل به چې په غيبت سره اودس ماتيږي. (وقد كان بعض الفقهاء يتوضأ من الغيبة كما يتوضأ من الحدث). حلية الأولياء (7/ 35)

غيبت په ننۍ ټولنه کې داسی گرځيدلی دی لکه په ډوډۍ کې مالگه چې ملگري سره راټول شي صحبت او بنډارونه جوړ کړي؛ نو د مجلس د مالگين کولو او خوندورتوب لپاره د يو غايب ملگري په نقصاناتو او عيوبو باندې مجلس گرموي؛ دا خو لا پريږده چې مسجد او مدرسه چې د ديني مقدساتو مرکزونه دي چې دنيوي خبرې کول په کې لا هم منع دي د غيبت کولو نه پاک پاتې ندي هلته هم د نن وخت مسلمانان د يوبل په غيبت او نقصاناتو باندې غړيږي؛ حال دا چې غيبت کول د يو انسان لويه گناه ده پدې اړه به لاندی تفصيل راشي.

## د غیبت او بهتان تعریف:

علمای کرامو د غیبت او بهتان لپاره مختلف تعریفونه ذکر کړي دي چې غوره تعریف هغه دی چې امام قرافي ذکر کړی دی هغه وايي:(الْغِيبَةَ ذِكْرُ مَسَاوِئِ الْإِنْسَانِ فِي غِيبَتِهِ، وَهِيَ فِيهِ وَإِنْ لَمْ تَكُنْ فِيهِ فَهِيَ بُهْتَانٌ). الفروق للقرافي (4/ 234)

ژباړه: غیبت د انسان بدي ذکر کول دي د هغه په غیاب کې ولو که دا بدي په هغه کې موجودوي؛ خو که چیرې دغه بدي په هغه کې نه وي نو دا بهتان دی.

ددې تعریف تائید دلاندې د مبارک حدیث څخه معلومیږي. په حدیث شریف کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ؟. قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ. قِيلَ أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ قَالَ: إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ ). صحیح مسلم (8/ 21)

ترجمه: د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: آیا تاسو پوهیږئ چې غیبت څه ته وایي؟ صحابه کرامو وویل: الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهیږي. نبي علیه السلام وفرمایل: (غیبت) یادول ستادي خپل وروره په هغه څه چې هغه یې بد ګڼي. وویل شول آیا که چیرې زما په ورور کې هغه شی موجود وي چې زه یې وایم؟ نبي علیه السلام وفرمایل که چیرې په هغه کې هغه څه وي چې ته یې بیانوي تا دهغه غیبت وکړ، خو که چیرې په هغه کې هغه څه نه وي چې ته یې بیانوي ، بیا تا په هغه بهتان ولږولو.

امام نووی رح وايي:(فأمَّا الغيبة: فهي ذكرُك الإِنسانَ بما فيه مما يكرهُ، سواءٌ كان في بدنه، أو دينه، أو دنياهُ، أو نفسهِ، أو خلقهِ، أو خلُقهِ، أو ماله، أو ولدهِ، أو والدهِ، أو زوجهِ، أو خادمهِ، أو مملوكهِ، أو عمامتهِ، أو ثوبهِ، أو مشيته، وحركتهِ، وبشاشته، وخلاعته، وعبُوسه، وطلاقته، أو غير ذلك مما يتعلق به، سواءٌ ذكرتهُ بلفظك أو كتابك، أو رمزتَ، أو أشرتَ إليه بعينك، أو يدك، أو رأسك، أو نحو ذلك). الأذكار للنووي ط ابن حزم (ص: ٥٣٥)

## د غیبت، بهتان او توهین تر منځ فرق:

امام حسن البصري رحمه الله د غیبت او تهمت په اړه وايې: (الغيبة ثلاثة أوجه كلها في كتاب الله تعالى: الغيبة والافك والبهتان.فأما الغيبة فهو أن تقول في أخيك ما هو فيه، وأما الافك فأن تقول فيه ما بلغك عنه.وأما البهتان فأن تقول فيه ما ليس فيه). تفسير القرطبي (16/ 335)

ترجمه: غیبت په دری قسمه دی چې دری واړه په قرآن کریم کې موجوددي چې یو غیبت دی ، بل تهمت (افک) (تور پورې کول) دي او دریم بهتان دی.هر چې غیبت دی هغه دادی چې ته هغه څه وایې چې ستا په ورور کې موجود وي او افک (تور پورې کول ) هغه څه دي چې ته هغه څه وایي چې تاته د ورور په اړه دررسیدلي وي او بهتان دادی چې ته د ورور په باره کې هغه څه وایې چې ستا په ورور کې هغه نه وي.

خلاصه: بهتان هغه درواغو ته ویل کیږي چې په یو چا پسې نا حقه تړل کیږي او چي کله یې هغه واوري هک پک پاتیږي ځکه داسې کارونه ورپسې تړل شوي وي چې هغه نه وي کړي.

غیبت او بهتان هغه خطرناک مرضونه دي چې کورنی ړنګوي، ورورړي پرې کوي، بې باوري رامنځ ته کوي او فرد او ټولنه دواړه په بې شمیره بدبختیو اخته کوي.

غیبت او تهمت زیات دُنیوي او أُخروي زیانونه لري چې ځینې یې په لاندې توګه دي:

۱-غیبت دومره قبیح عمل دی چې د مسلمان ورور غیبت الله تعالی د هغه د غوښې د خوراک سره تشبیه کړي دي. الله تعالی فرمایلي دي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلا تَجَسَّسُوا وَلا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ}.الحجرات: ۱۲

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسو له ډېرو (بدو) ګمانونو نه ځان وساتئ بیشکه ځینې ګمانونه ګناه ده او پټ عیبونه مه لټوئ او ستاسو ځینې دې د ځینو نورو غیبت نه کوي آیا په تاسو کې یو کس داخوښوي چې د خپل ورور غوښه وخوري په دې حال کې چې هغه مړی وي نو تاسو دغه (خوراک) بدګڼئ او له الله تعالی نه وویرېږئ بیشکه الله ښه توبه قبلوونکی بې حده رحم کوونکی دی.

یعنې لکه څرنګه چې تاسې دخپل ورور دغوښې خوراک بد ګڼئ او ځان تری ساتی، داسې دده د غیبت کول هم بد وګڼئ او ځانونه ورڅخه وساتئ.

ددې آیت نه معلومه شوه چې څوک د بل غیبت کوي نو دا داسې ګناه او قبیح کار دی لکه یو کس د خپل مړ ورور مسلمان غوښه خوري ، نو لکه څرنګې چې خلک دا بد ګڼي نو همدغه شان غیبت هم بد ګڼل په کار دي او ددینه هم ځان ساتل په کار دي .

حضرت عبد الله بن مسعود الله فرمایي چې مونږ د نبي علیه السلام سره په مجلس کې ناست وو یو کس د مجلس نه پاڅید یو بل کس د هغه متعلق څه خبرې او کړی ( یعنی هغه غیبت یې و کړو ) ، نبي علیه السلام ده ته او فرمایل : تَخَلَّلْ . ته خلال او کړه ( یعنی د غاښونو نه غوښه صفا کړه ) .هغه کس وویل : (وَمِمَّ أَتَخَلَّلُ؟ مَا أَكَلْتُ لَحْمًا).

زه ولې خلال او کړم ؟ ما خو غوښه نده خوړلی. نبي علیه الصلاة والسلام ورته وفرمایل :( إِنَّكَ أَكَلْتَ لَحْمَ أَخِيكَ). مصنف ابن أبي شيبة (1/ 212)بیشکه تا په غیبت کولو سره د خپل ورور غوښه او خوړه.

۲-غیبت او تهمت دواړه کبیره ګناهونه دي.

غیبت او تهمت لږول کبیره ګناه ده. په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: إِنَّ مِنْ أَكْبَرِ الْكَبَائِرِ اسْتِطَالَةَ الْمَرْءِ فِي عِرْضِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ بِغَيْرِ حَقٍّ). سنن أبى داود(4/ 420)

د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي په ګناهونو کې تر ټولو لویه ګناه اخته کیدل د شخص دي په عزت د یو مسلمان کې په ناحقه سره .یعنی هغه حقیر ګڼل او د هغه په شان کې خبری کول.

په یو بل حدیث شریف کې راځي:( عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: لَمَّا عُرِجَ بِى مَرَرْتُ بِقَوْمٍ لَهُمْ أَظْفَارٌ مِنْ نُحَاسٍ يَخْمِشُونَ وُجُوهَهُمْ وَصُدُورَهُمْ فَقُلْتُ مَنْ هَؤُلاَءِ يَا جِبْرِيلُ قَالَ هَؤُلاَءِ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ لُحُومَ النَّاسِ وَيَقَعُونَ فِي أَعْرَاضِهِمْ ).سنن أبى داود-(4/ 420)

ترجمه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې زه آسمانونو ته بوتلل شوم په داسې یو قوم باندې تیرشوم چې د هغوی د تانبې نوکونه ؤ او را شوکول یې وریاندې خپل مخونه او سینې خپلې.ما وویل دا څوک ای جبریله! (علیه السلام) هغه وویل: دا هغه کسان دي چې دخلکو غوښې به یې خوړلی اود هغوي په عزتونو کې به اخته ؤ.

۳-څوک چې غواړي په غیبت او تهمت سره مسلمان ورور رسوا او وشرموي ، الله تعالی به یې د خپل کور په منځ کې رسوا کړي.

عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الأَسْلَمِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « يَا مَعْشَرَ مَنْ آمَنَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يَدْخُلِ الإِيمَانُ قَلْبَهُ لاَ تَغْتَابُوا الْمُسْلِمِينَ وَلاَ تَتَّبِعُوا عَوْرَاتِهِمْ فَإِنَّهُ مَنِ اتَّبَعَ عَوْرَاتِهِمْ يَتَّبِعِ اللَّهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ يَتَّبِعِ اللَّهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ فِي بَيْتِهِ). سنن أبى داود (4/ 421)

ترجمه: دابو برزه اسلمي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: ای هغه ډلې چې ايمان يې راوړی دی په ژبه او نه دی داخل شوی ايمان زړه دهغه ته ! د مسلمانانو غيبت مه کوئ او د خلکو د عورتونو(پټو حالاتو) پلټنه مه کوئ، بيشکه څوک چې د مسلمانانو دعزتونو تتبع او پلټنه کوي ، تتبع به وکړي الله دده دعزت او الله تعالی چې دچا د عزت تتبع وکړه رسوا به يې کړي په خپل کورکې.

۴- -غيبت د قبر د عذاب سبب ګرځي.

څوک چې غيبت کوي ، د آخرت د عذاب څخه علاوه په قبرکې به هم په عذاب کيږي.

په حديث شريف کې راځي: (عن أَبِي بَكْرَةَ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَبْرَيْنِ فَقَالَ إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ أَمَّا أَحَدُهُمَا فَيُعَذَّبُ فِي الْبَوْلِ وَأَمَّا الْآخَرُ فَيُعَذَّبُ فِي الْغِيبَةِ). سنن ابن ماجه (1/ 125)

ترجمه: د ابوبکره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې تيرشو نبي کريم صلی الله علیه وسلم په دوه قبرونو باندې او وه يې فرمايل: دا دواړه (د قبرونو کسان) خامخا په عذاب کې دي او دوی فعلا په کومه غټه ګناه کې نه په عذاب کيږي. دا يو چې دی ده ته عذاب ورکول د بولو په باره کې (له بولو يي ځان نه ساته) او دا بل چې په عذاب کيږي هغه د غيبت له امله په عذاب کيږي.

۵-په غيبت کې د مسلمان په آبرو او عزت باندې تجاوز دی.

الله تعالی پرمسلمانانو د نورو مسلمانانو مال، عزت او آبرو او د هغه وينه حرامه ګرځولی ده.

په حديث شريف کې راځي:(كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ مَالُهُ وَعِرْضُهُ وَدَمُهُ). سنن أبى داود (4/ 422)

ترجمه: په هرمسلمان د بل مسلمان مال، عزت، او وينه حرام دي.

٦-د غيبت ګناه له سود څخه هم زياته ده او بايد چې ددي ګناه څخه ځان وساتل شي.

په حديث شريف کې د غيبت ګناه لوی سود ګڼل شوی دی.(عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: إِنَّ مِنْ أَرْبَى الرِّبَا الاِسْتِطَالَةَ فِي عِرْضِ الْمُسْلِمِ بِغَيْرِ حَقٍّ ). سنن أبى داود-ن (4/ 420)

ترجمه: سعيد بن زيد رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه حديث نقلوي چې پيغمبرعليه السلام وفرمايل: تر ټولو زيات سود(د ګناه له حيثه) اخته کيدل دي په عزت د مسلمان کې په ناحقه سره.يعنی د عيبونو په بيانولو کې اخته کيدل دي .

۷-د مړ خر دغوښې خوراک له غيبت څخه بهتر دی او نبي عليه السلام هغه دوه کسانو ته دمړ خر د غوښې دخوراک امر وکړ چې د وفات شوي صحابي غيبت يي وکړ.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې کله ماعز اسلمي رضي الله عنه پيغمبر عليه السلام ته راغی او څلور ځله يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کې په زنا کولو اعتراف وکړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه د رجم کولو امر وکړ ( فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ فَسَمِعَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِهِ يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ انْظُرْ إِلَى هَذَا الَّذِى سَتَرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فَلَمْ تَدَعْهُ نَفْسُهُ حَتَّى رُجِمَ رَجْمَ الْكَلْبِ. فَسَكَتَ عَنْهُمَا ثُمَّ سَارَ سَاعَةً حَتَّى مَرَّ بِجِيفَةِ حِمَارٍ شَائِلٍ بِرِجْلِهِ فَقَالَ ( أَيْنَ فُلاَنٌ وَفُلاَنٌ ). فَقَالاَ نَحْنُ ذَانِ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ : انْزِلاَ فَكُلاَ مِنْ جِيفَةِ هَذَا الْحِمَارِ . فَقَالاَ يَا نَبِىَّ اللَّهِ مَنْ يَأْكُلُ مِنْ هَذَا قَالَ « فَمَا نِلْتُمَا مِنْ عِرْضِ أَخِيكُمَا آنِفًا أَشَدُّ مِنْ أَكْلٍ مِنْهُ وَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ إِنَّهُ الآنَ لَفِى أَنْهَارِ الْجَنَّةِ يَنْقَمِسُ فِيهَا). سنن أبى داود-ن (4/ 255)

کله چې هغه رجم شو نو نبي علیه السلام د خپلو اصحابو ددوه کسانو څخه واوریدل چې یو ملگري بل ملگري ته داسې وویل: وگوره دغه (ماعز اسلمي) ته الله تعالی وربانديې پرده اچولی وه پرې نښود ده لره نفس تردې چې د سپي په شان رجم شو. نبي علیه السلام له دوی چوپ شو ، یو ساعت مخکې لاړل تردې چې تیرشول په مردار خر باندې چې پښه یې د پړسوپ له وجې پورته شوی وه . نبي علیه السلام وفرمایل: هغه فلانی او فلانی څه شول؟ هغو دواړو وویل مونږ دلته یو یارسول الله ـصلی الله علیه وسلم-. نبي علیه السلام ورته وویل: کوز شئ او وخورئ ددې مردار خر څخه (یعنې ددی مړ خر غوښه وخورئ) .دواړو وویل : ای دالله تعالی نبي ! څوک به وخوري دا مرداره؟! نبي علیه السلام ورته وویل: دا تاسو چې لږ مخکې د خپل مسلمان ورور غیبت کړی دی دا ډیر سخت دی د خوړولو ددې مردارې څخه(دگناه په لحاظ) . قسم دې وي زما په نفس د هغه په واک کې دی چې هغه همدا اوس په نهرونو د جنت کې دی چې غوټې وهي په کې.

۸- په اشارې سره د چا عیب بیانول هم غیبت دی.

غیبت لکه څرنگه چې په خوله باندې کیږي همدغه شان د چا عیب په اشارې سره بیانول هم په غیبت کې راځي : حضرت صفیه رضی الله عنها د نبي علیه السلام بي بي وه ،( ددي قد لږ وړوکې و ) حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي چې ما نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته او فرمایل :(حَسْبُكَ مِنْ صَفِيَّةَ كَذَا وَكَذَا ).صفیه ستاسو د پاره دومره دومره کافي ده .په كَذَا وَكَذَا سره حضرت عائشي رضي الله عنها خپلې لویشت طرف ته اشاره و کړه ) مقصد یې دا ؤ چې هغه لنډۍ ده .

نبي علیه السلام ورته او فرمایل :(لَقَدْ قُلْتِ كَلِمَةً لَوْ مُزِجَتْ بِمَاءِ الْبَحْرِ لَمَزَجَتْهُ) . سنن أبی داود- (4/ 420)

اي عائشي ! تا داسې کلمه وویله که چیرته دا د دریاب اوبو سره یو ځای شي نو په هغي باندی به غالب شي.

۹- د غیبت په وجه بد بویه هوا پیدا کیدل.

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْتَفَعَتْ رِيحُ جِيفَةٍ مُنْتِنَةٍ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَدْرُونَ مَا هَذِهِ الرِّيحُ هَذِهِ رِيحُ الَّذِينَ يَغْتَابُونَ الْمُؤْمِنِينَ) مسند أحمد (23/ 97)

ترجمه: حضرت جابر بن عبد الله فرمايي چې مونږ د نبي علیه السلام سره په مجلس کې ناست وو نو په دې وخت کې د مردار بدبوی هوا را اوچته شوه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :(أَتَدْرُونَ مَا هُذِهِ الرِّيحُ ؟ هَذِهِ رِيحُ الَّذِيْنَ يَغْتَابُوْنَ الْمُؤْمِنِينَ ).آیا تاسو پوهیږئ چې دا بدبویه هوا د څه شی ده؟ دا د هغه خلقو بدبویه هوا ده چې د مؤمنانو غیبت کوي.(یعنی دا بدبويي د غیبت ده ) .

۱۰-غیبت کونکې به په ورځ د قیامت د مرداری او گندگی په خوراک عذابیږي.

۱۱-غیبت کوونکي ته تر هغه بښنه نه کیږي ترڅو چې ورته هغه چاچې غیبت کړی شوی وي بښنه ونکړي.

۱۲-غیبت یو بد، ناوړه او هلاکونکې انتخاب دی.

۱۳-غیبت صدمه او نقصان رسوي او ضرر او نفرت زیږه وي.

۱۴-غیبت یو اجتماعي مرض دی د مسلمانانو تر مینځ د محبت رسۍ ختموي.

## باعث او اسباب د غیبت:

امام عزالی (رح) د غیبت اسباب په لاندې ډول بیان کړي دي:

۱-غیبت کوونکی د بل انسان په غیبت کولو سره خپله غوصه کموي.

۲-د نورو په غیبت کولو سره خپل اعتماد زیاتول.

۳- کینه او بغض کول د هغه چا سره چې نور یې صفت کوي.

۴-ټوقې، مسخرې کول او نور سپکول د نورو.

۵-د بد صفت نه د خپل ځان پاکوالی او د هغې نسبت کول نوروته.

لکه څرنگه چې غیبت کول حرام دي همداسې غیبت اوریدل او ورته غوږ ایښودل هم حرام دي.

که چیرې څوک بل څوک ووینې چې غیبت کوي باید چې له غیبت څخه یې منع کړي او که چیرې منع کول یې په توان کې نه وي هغه مجلس باید ترک کړي او که چیرې په هغه مجلس کې کیناستل مجبوري وي ، باید غیبت ته غوږ ونه نیسي او د الله ذکر وکړي.

الأذكار للنووي ط ابن حزم (ص: 540)

د علماوو غیبت کول هم سخته گناه ده ، دعامو خلکو غیبت کول گناه کبیره ده، خاصکر د علماوو غیبت کول ډیره سخته ده؛ځکه الله تعالی علماوو ته ډیر شان ورکړی دی. د عالم او غیر عالم مرتبه برابره نه ده. علامه ابن عساکر رح ذکر کړي دي چې( لحوم العلماء مسمومة ، من يأكله يموت) فیض الباري ۲۵۱/۱ د علماوو غوښې زهریله دي، څوک دعلماوو غوښه وخوري مړکیږي.

## د بهتان شرعي حکم:

د ټولو فقهاو په اتفاق سره بهتان تړل پر مسلمان پورې حرام دي او بهتان ویونکی د لویې گناه مرتکب دی.

بهتان ویل د قرآن له نظره:

الله تعالی فرمايي:{وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا}.الاحزاب 58

ژباړه: هغه کسان چې نارینه او ښځینه مسلمانانو ته پداسې شیانو آزار رسوي چې هغوی نه وي کړي نو یقینا دوی د بهتان او ښکاره گناه مرتکب شوي دي.

یعنې هغه خلک چې مسلمانان په داسې شیانو متهم کوي چې هغوی ترینه بیزاره وي؛ نو دوی د بې ځایه گمان او لویې گناه مرتکب شوي دي.

په قرآن شریف کې چې الله تعالی د رسول الله صلي الله علیه وسلم سره د مؤمنو ښځو د بیعت یادونه کوي یو په کې دا دی چې: (وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ). یعنې دوی به ستا سره پر دې باندې بیعت کوي چې دوی به بهتان نه وایي.

**بهتان ویل د احادیثو او آثارو له نظره:**

۱- په حدیث کې راځي: (مَنْ حَمَى مُؤْمِنًا مِنْ مُنَافِقٍ يَعِيبُهُ، بَعَثَ اللَّهُ مَلَكًا يَحْمِي لَحْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ ، وَمَنْ قَذف مُسْلِمًا بِشَيْءٍ يُرِيدُ شَيْنَهُ بِهِ، حَبَسَهُ اللَّهُ عَلَى جِسْرِ جَهَنَّمَ حَتَّى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ).[شرح السنة3527]

ژباړه: څوک چې مسلمان د هغه منافق څخه وساتي چې دده عیب وایي الله تعالی به د قیامت په ورځ ملائکه را واستوي ترڅو چې دده غوښه د جهنم د اور څخه وساتي او څوک چې پر مسلمان د یو شي تور ولګوي هدف یې دده بدنام کول وي الله پاک به یې د جهنم پر پله باندې تر هغه وخته پورې ودروي تر څو چې کومه خبره یې چې کړې د هغې دعهدې څخه راووځي.(په عذاب سره یا د هغه چا په عفوې سره چې د هغه غیبت یې کړی دی).

۲ – عن فضيل، يقول: في آخر الزمان قوم بهاتون، عيابون، فاحذروهم، فإنهم أشرار الخلق، ليس في قلوبهم نور الإسلام، وهم أشرار، لا يرتفع لهم إلى الله عمل.[التوبيخ والتنبيه 202]

ژباړه: فضیل رحمه الله وایي: په آخره زمانه کي به داسې خلک پیدا شي چې بهتان به وایي او دخلکو عیبونه به بیانوي، ددوی څخه ځانونه وساتئ ځکه دوی بدترینه د مخلوقاتو دي، ددوی په زړونو کې د اسلام نور نشته، دوی شریر خلک دي او ددوی هیڅ عمل به الله تعالی ته نه پورته نشي.

محمد بن حسین د یوه حکیم په حواله وایي:( الْبُهْتَانُ عَلَى الْبَرِيءِ أَثْقَلُ مِنَ السماوات السَّبْعِ).

یعني پر پاک انسان باندې بهتان ویل تر اوو آسمانونو دروند دی.

پر مسلمان باندې بهتان ویل دومره لویه ګناه ده چې په یو حدیث کې یې پر مسلمان تهمت ویل د هغو پنځو ګناهونو څخه شمېرلی دی چې هیڅ کفاره یا جبیره نلري.

ابو اللیث سمرقندي وایې چې د بهتان څخه بله لویه ګناه نشته ؛ځکه چې نور ګناهونه په یو ځل توبې سره بښل کیږي مګر د بهتان د توبې لپاره درې خبری ضروري دي:

لومړی داچې بهتان ویونکی به هغو خلکو ته ورځي چې هغوی ته یې بهتان بیان کړی دی او ورته به وایې چې کومه خبره چې د فلاني په حق کې ما تاسو ته کړی وه زه په هغې کې دروغجن یم.

دوهم: په چا پورې یې چې بهتان تړلی دی هغه ته به ورځې او له هغه څخه به بښنه غواړي.

دریم: دالله تعالی څخه دخپلې ګناه بښنه غواړي او توبه به وباسي.تنبيه الغافلين (ص: 167)

ابواللیث سمرقندي رحمه الله فرمایلي دي: تر بهتان لویه ګناه نشته ځکه چې الله تعالی په قرآن کي د کفر سره یو ځای ذکر کړی دی او فرمایي: (فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ).الحج: (٣٠). تنبيه الغافلين بأحاديث سيد الأنبياء والمرسلين (ص: 167)

ژباړه: د بوتانو د چټلی څخه او درواغو خبرو(بهتان) څخه ځانونه وساتئ.

نو ددې لپاره چې د الله تعالی مرسته تر لاسه کړو د هر منافق په وړاندې باید د خپل هر مسلمان ورور پلوي او د آبرو يې دفاع وکړو او ددې لپاره چې الله تعالی مو د جهنم د عذاب څخه وساتي پر مسلمانانو باندي بې ځايه تورونه او تهمتونه و نه لګوو.

همداسې که غواړو الله تعالی زموږ عبادتونه لکه: لمونځ، روژه، زکاة، حج او نور را څخه قبول کړي باید پر خپل مسلمان ورور بهتان او تهمت و نه وایو؛ داسې نه وي چې ځانونه په عبادتونو ستړي کوو او د حج او نورو مالي عبادتونو لپاره ډېر لګښتونه کوو خو پر خپل مسلمان ورور بې ځایه تورونه هم لګوو چې دا نو بیا په دنیا کې هسې ستړیا او په آخرت کې لویه رسوایي ده.